# د والدینو/سرپرستانو/د زده کړې په برخه کې د تصمیم نیوونکو لپاره له لیدنې څخه مخکې د پلان جوړونې چېک لېست

د ټولو زده کوونکو لپاره په زده کړې کې د کووید-19 د پایلو اختلال. که چېرته (د فردي زده کړې پلانونو (IEPs) او 504 پلانونو) لرونکو معلولو زده کوونکو د وبا د دورې هغه ارزونې یا خدمتونه نه وي ترلاسه کړي چې مستحق یې دي نو کېدای شي چې هغوی د کووېډ د جبران خدمتونه (CCS) ترلاسه کړي. د پېټزبورګ عامه ښوونځیو پر معلولیت لرونکو زده کوونکو د کووېډ د اغېز د ختمولو لپاره د کووېډ د جبران خدمتونو یو نوی پلان اعلان کړی دی چې عنوان یې CCS 2.0 دی.

ستاسو د IEP یا 504 پلان د ټیم لپاره چې والدین یا سرپرست هم پکې شامل دي، لومړنی ګام دا دی چې لیدنه وکړي تر څو په دې اړه فردي تعیینونې ترسره کړي چې ایا ستاسو ماشوم د هغو CCS لپاره پر شرایطو برابر دی چې د مجازي زده کړې، ترکیبي زده کړې او/یا د کووېډ له امله د را منځته شوي دوامداره اختلال له دورې وروسته حضوري زده کړې ته د را ستنېدو پر مهال ورته وړاندې شوي نه دي یا یې ترلاسه کړي نه دي. د وبا دغه دوره د 2020 کال د مارچ له 16 مې، دوشنبې څخه د 2022 کال د جون میاشتې تر 16 مې، پنجشنبې پورې دورې ته پوښښ ورکوي.

**په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې**

**په لیدنه کې به څه ترسره شي؟**
تاسو به د IEP ټیم له نورو غړیو سره بیا کتنه وکړئ، بحث وکړئ او مستند به کړئ چې ایا د وبا دورې پر مهال د خدمتونو د له لاسه ورکولو یا بدلون له امله د کووېډ د جبران خدمتونه وړاندې چمتو شوي وو او/یا ورته اړتیا ده او کنه. ټیم به پر دې فکتورونو غور وکړي چې ایا ستاسو ماشوم ځانګړې زده کړه او اړوند خدمتونه ترلاسه کړي دي چې د هغوی په IEP یا 504 پلان کې د وبا دورې د اغېز له امله ذکر شوي دي او کنه، او دا چې ایا ځانګړې زده کړه او/یا اړوند خدمتونه ستاسو د ماشوم د فردي اړتیاوو لپاره مناسب وو او کنه.

ټیمونه به همدارنګه پر سندونو، معلوماتو، د والدینو او ښوونکي پر نظر، ملاحظاتو، د معلوماتو پر ارزونې، د فعالیتونو پر اوسنۍ کچه، د پرمختګ مخکینی اندازې او د له لاسه ورکړو زده کړې پر دفعو او وخت بیا کتنه او غور وکړي. والدین او ساتونکي د IEP او 504 ټیمونو مهم غړي دي او د وبا په دوران کې د خپل ماشوم د زده کړې په تړاو خپلې ارزونې شریکې کړي.

**که ټیم دا پرېکړه وکړي چې زما ماشوم خدمتونو ته اړتیا لري، نو بیا به څه کېږي؟**
که ټیم دا پرېکړه وکړي چې باید کووېډ جبرانوونکي خدمتونه باید ترسره شي، نو IEP یا 504 ټیم به د اړین خدمت ډول او اندازه وټاکي، د اړینو خدمتونو، چې هوکړه پرې شوې ده، لپاره به یو معقول زماني مهالوېش وټاکل شي او دا پرېکړه به مستنده کړي. که ټیم دا پرېکړه وکړي چې اړینو خدمتونو ته اړتیا نشته، نو ټیم به د دې پرېکړې لپاره دلیل مستند کړي. ټیم به تاسې ته د وړاندیز شوي ښوونیز ځای پر ځای کولو یادښت (NOREP) او ستاسې د طرزالعمل خوندیتوبونو یو کاپي در کړي چې په دې کې به ستاسې حقونونه او انتخابونه تشریح شوي وي.

**کورنۍ باید غونډې ته له ځانونو سره څه شی راوړي؟**
کورنۍهغه تعلیمي اسناد چې دوی د کووېډ وبا پر مهال را ټول کړي دي، وړاندې کولای شي. په بېلګو کې یې د وړاندې شویو یا نه وړاندې شویو خدمتونو په تړاو جنتری یا لېستونه، د ټرانسپورټ د لګښتونو لپاره رسیدونه چې دغه لګښتونه هغه مهال شوي دي چې ولسوالي د ټرانسپورټ خدمتونه وړاندې کولای نشول، له خپل جیب څخه لګښتونه لکه کورس نیول او نور ټول هغه اطلاعات او مثالونه چې تاسې یې په دې اړه چې ماشوم مو د وبا په دوران کې په خپلو زده کړو کې په معناداره ډول (اکاډمیک، ټولنیز، عاطفي او چلند) ګډون کړی او که نه.

**دغه چیک لېست به درسره څنګه مرسته وکړي؟**

وخت تېر شوی دی، ستاسي د ماشوم ښوونکي او موخي هم بدلي شوي دي، نو له همدې امله ستاسي یادښتونه به د CCS په تړاو د پرېکړې کولو پروسي لپاره خورا اړین وي. په دغو لاندې سناریوګانو کي پر ځینو یي په فکر کولو سره تاسي په خبرو اترو کي مرسته کولای شئ چي د IEP او 504 پلان ټیمونو د اندېښنو یو لېست ورکړئ چي په دغه غونډه کي پرې بحث وکړي.

**د پانډېمي یا وبا پر مهال زیاتره زده کوونکو ازموینو یا تکراري ازموینو لپاره حضوري ارزوني ترسره کولای نشوي. مهرباني وکړئ لاندې مناسبه خانه په نښه کړئ**

| | هو | نه | ډاډه نه یم |
|---|---|---|---|
| د ازموینې یا بیاځلي ازموینې د اجازه لیک تر لاسلیک کولو وروسته په 60 ورځو کي دننه (د اوړي رخصتۍ له دې مستثنی دي) یوه **ازموینه یا بیاځلي ازموینه اخیستل شوې نه وه.** | ☐ | ☐ | ☐ |
| د پانډېمي یا وبا په دوران کي باید ستاسي د ماشوم بیاځلي ازموینه اخیستل شوې وای (د معنوي معلولیت زده کوونکو لپاره هر 2 کلونه او د نورو زده کوونکو لپاره هر 3 کلونه) او بیاځلي ازموینه د پانډېمي یا **وبا له امله ځنډېدلي** وه. | ☐ | ☐ | ☐ |
| تاسي ته ویل شوي وو چي **ازموینې په حضوري توګه اخیستل کېدلای نشي** او له همدې امله ازموینې یا بیاځلي ارزونه کي یوازې د سوابقو بیاکتنه یا ارزونه شامله وه. | ☐ | ☐ | ☐ |
| تاسي ته ویل شوي وو چي ولسوالي **د ارزوني یوه برخه** ترسره کولای شي (مثلاً؛ د درجهبندي نمرې)، خو د ارزوني نورې برخي ترسره کولای نشي (مثلاً؛ د IQ یا د بریاوو ازموینه، د چلند عملکرد ارزونه (FBA) شغلي تراپي (OT)، فزیکي تراپي (PT)، خبرې او ژبه او داسي نور) | ☐ | ☐ | ☐ |

**ایا ستاسي ماشوم د ځانګړو زده کړو ټول خدمتونه، اړوند خدمتونه، 504 پلان خدمتونه یا هم استوګنځي ترلاسه کړي او لاسرسی یې ورته کولای شو چې د پانډېمي یا وبا پر مهال یې ستاسي ماشوم مستحق و؟**

**مهرباني وکړئ لاندې د ټولو هغو خدمتونو لپاره مناسبه خانه په نښه کړئ چې په زیاته بدل شوي، ځنډول شوي یا هم بالاخره ترلاسه شوي نه وو.**

| | 2019-2020 | 2020-2021 | 2021-2022 |
|---|---|---|---|
| **د خدمت ډول:** | غیر همزمانه زده کړه -پاڼه/کڅوړه- | همزمانه زده کړه -مجازي/ګډوله- | حضوري زده کړې |
| د زده کړو ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| آټیزم ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| عاطفي ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| د ژوند د مهارتونو ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| د لید ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| د کونوالي او په درنه اورېدو ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| د خبرو تراپي | ☐ | ☐ | ☐ |
| شغلي تراپي | ☐ | ☐ | ☐ |
| فزیکي تراپي | ☐ | ☐ | ☐ |
| د سلا مشورې خدمتونه | ☐ | ☐ | ☐ |
| د بلدتیا او حرکت زده کړه | ☐ | ☐ | ☐ |
| د شخصي پاملرنې مرسته (PCA) | ☐ | ☐ | ☐ |
| د نرسېنګ پاملرنه | ☐ | ☐ | ☐ |
| د چلند ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| د Para (تعلیمي مرستیال) ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| د سفر زده کړه | ☐ | ☐ | ☐ |
| د ټولنې پر بنسټ د کار تجربې (CBVE) انټرشیپونه یا هم مسلکي زده کړې | ☐ | ☐ | ☐ |
| د لېږد نور خدمتونه | ☐ | ☐ | ☐ |
| د کورنیو دندو اصلاح یا تعدیل | ☐ | ☐ | ☐ |
| د زده کړې په چاپېریال کې بدلونونه | ☐ | ☐ | ☐ |
| پر دندې د پاتېدو او د کورنیو دندو د تکمیلولو په برخه کې ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| سازماني ملاتړ | ☐ | ☐ | ☐ |
| د ټولنیزو مهارتونو لارښود | ☐ | ☐ | ☐ |
| ټرانسپورټ | ☐ | ☐ | ☐ |
| نور: ______________________________ | ☐ | ☐ | ☐ |

**که زده کوونکو د پانډېمي یا وبا د فکتورونو له امله مناسبه زده کړه ترلاسه کړې نه وي، نو دا پر CCS د زده کوونکو حق پاتې دی. مهرباني وکړئ که په لاندې کې ستاسي د ماشوم په تړاو په لاندې هر یو حالت تطبیقېږي، نو هغه په نښه کړئ:**

| | هو | نه | ډاډه نه یم |
|---|---|---|---|
| ستاسې ماشوم د 2020 کال په پسرلي کې خپلو زده کړو **ته د لاسرسي په برخه کې ستونزې درلودې (پاڼې او د پنسلونو کڅوړې** یا هم انلاین کورنۍ دندې.) | ☐ | ☐ | ☐ |
| ستاسې ماشوم د مجازي زده کړو پر مهال خپلو زده کړو ته **په معناداره ډول لاسرسی نشو کولای** یا هم پکې ښکېل پاتېدلای نشو (زده کړه، کورنۍ دندې، اړونده خدمتونه) **د یوه پالونکي د پام وړ ملاتړ پرته.** | ☐ | ☐ | ☐ |
| له لرې واټن زده کړو پر مهال ټیم هغه **موخې، خدمتونه یا تعدیلونه ځنډولي وو، ډېر زیات بدل کړي وو، یا یې هم ودرولي چې په IEP یا 504 پلان کې لیکل شوي وو.** | ☐ | ☐ | ☐ |
| ستاسې ماشوم هغه مهارتونه **ساتلي نه دي یا یې هم له لاسه ورکړي دي** چې تر پاندېمي مخکې درلودل. | ☐ | ☐ | ☐ |
| ستاسې ماشوم **د پاندېمي یا وبا پر مهال نوي اکاډمېک، عاطفي*، عملکرد* یا چلند لګښتونه تجربه کړي دي یا یې هم پخواني هغه سخت شوي دي** (د بېلګې په توګه اظطراب، ښوونځي ته د تګ یا د دندې ردول، ژور خپګان، له تاوتریخوالي ډک چلند، وتل.)<br>*ټیمونه باید هغه بدلونونه هم په پام کې ونیسي چې په IEP یا 504 اوسني پلان کې یې اړتیا وي (لکه د رواني سلامشورې اضافه کول.) | ☐ | ☐ | ☐ |
| تاسې د **ملاتړ یا خدمتونو لپاره له خپل جیبه لګښتونه کړي دي** چې د پاندېمي یا وبا پر مهال له لاسه وتلي مهارتونه یا هم د پرمختګ نشتون پرې جبران کړئ. د بېلګې په توګه - کورس نیول، د زده کړې مرکز، 1:1 مرسته، د خبرو، فزیکي یا هم شغلي تراپي، ښوونځي ته او له ښوونځي څخه ټرانسپورټ. | ☐ | ☐ | ☐ |
| ستاسې ماشوم د پاندېمي یا وبا په دوران کې په یوه **کورس کې ناکام شوی و** یا هم ښوونکو ستاسې د ماشوم د ټولګي لپاره **شرایط خورا را ټیټ کړي وو** چې ستاسې ماشوم په ټولګي کې بریالی شي. | ☐ | ☐ | ☒ |

**که زده کوونکو په پاندېمي پورې اړونده نورو فکتورونو له امله زده کړې ضایع کړې وي، نو ښایي د CCS مستحق وي. مهرباني وکړئ که په لاندې کې ستاسې د ماشوم په تړاو په لاندې هر یو حالت تطبیقیږي، نو هغه په نښه کړئ.**

| | هو | نه | ډاډه نه یم |
|---|---|---|---|
| **ستاسې ماشوم** پر کوویډ د اخته د کېدو یا یې په معرض کې واقع کېدو له امله له ښوونځي پاتې شوی وي. | ☐ | ☐ | ☐ |
| **د ښوونځي ودانۍ تړل شوې وه** او لامل یې هم د کوویډ را کمول یا هم د کارمندانو غیرحاضري وه. | ☐ | ☐ | ☐ |
| **ستاسې ماشوم په زده کړو کې ګډون کړی نه وي** (عمومي زده کړې یا هم ځانګړې زده کړې/اړونده خدمتونه) او لامل یې هم د کوویډ له امله د کارمندانو غیرحاضري وي. | ☐ | ☐ | ☐ |
| ستاسې ماشوم په موټر کې د کوویډ په معرض کې واقع کېدو له امله **ټرانسپورټ نه درلود.** | ☐ | ☐ | ☐ |
| ستاسې ماشوم په دوامداره توګه انټرنیټ ته لاسرسی نه درلود. | ☐ | ☐ | ☐ |

**که زده کوونکی د کوویډ د جبرانوونکو خدمتونو پر شرایطو برابر وي:**

**آیا زما ماشوم ته باید زده کړې په یوه ځانګړي ډول ورانديز شي یا هم د وړاندې کولو لپاره داسې میتودونه شته چې مناسب نه دي؟**

| | زه غوارم چي ټيم دغه انتخاب په پام کي ونيسي، ځکه چي دا زما د ماشوم لپاره کار ور کوي: | دا انتخاب به مناسب نه وي، ځکه چي دا زما د ماشوم لپاره مناسب نه دی: |
|---|---|---|
| حضوري | ☐ | ☐ |
| مجازي | ☐ | ☐ |
| 1:1 زده کړه | ☐ | ☐ |
| کوچنی ګروپ | ☐ | ☐ |
| غټ ګروپ | ☐ | ☐ |

**زده کړه يا خدمت به کله وړاندې کيږي؟ زما د ماشوم لپاره کوم وختونه مناسب دي؟**

| | زه غوارم چي ټيم دغه انتخاب په پام کي ونيسي، ځکه چي دا زما د ماشوم لپاره کار ور کوي: | دا انتخاب به مناسب نه وي، ځکه چي دا زما د ماشوم لپاره مناسب نه دی: |
|---|---|---|
| د ښوونځي په جريان کي | ☐ | ☐ |
| تر ښوونځي مخکي | ☐ | ☐ |
| تر ښوونځي وروسته | ☐ | ☐ |
| ماښام | ☐ | ☐ |
| د اوونۍ د پای په ورځو کي | ☐ | ☐ |
| په تفريح کي | ☐ | ☐ |
| په اوړي کي | ☐ | ☐ |

**آيا ستاسي له جبرانوونکو خدمتونو څخه د ګټي اخيستلو لپاره اضافي خدمتونو ته اړتيا لري؟ که ځواب مو هو وي، مهرباني بکس(ونه) په نښه کړئ.**

| | | | |
|---|---|---|---|
| د نرسينګ خدمتونه | ☐ | نيمه مسلکي ملاتړ | ☐ |
| د شخصي پاملرني مرستيال (PCA) خدمتونه | ☐ | چلند ملاتړ | ☐ |
| ټرانسپورټ | ☐ | نور: | ☐ |